اباډي
اوونيزه
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۱۹ | مسلسل نمبر: ۶۱
شنبه، د صفر المظفر ۲۰مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پلتوني اوبو بند د چارو د پيل پرانيسته وکړه



۲ صفحه

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ازبکستان لومړي وزير سره وکتل



۲ مه صفحه

## کميسيون تدارکات ملی پروژه‌های گوناگون را به ارزش حدود پنج ميليارد افغانی منظور نمود



۴ مه صفحه

## سرليکنه



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبيکستان لومړی وزير عبدالله عارف اوف ترمنځ په ليدنه کې د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د دوه اړخيزو اړيکو د پراختيا ترڅنګ د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د ټينګښت او ځينو پروژو د پيل په اړه خبري وشوې. د سوداګرۍ، کرنې، کانونو، وارداتو او صادراتو په برخه کې د شاوخوا ۲،۵ ميليارد ډالرو په ارزښت ۳۵تړونونه او هوکړه ليکونه لاسليک او پــه کابل کې د افغــان- ازبک ګډ نندارتون پرانيستل شو. په دې ليدنه کې د رياست الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغنــي برادر اخوند وويل، د دواړو هېوادونو ترمنځ ســوداګريزې او اقتصادي اړيکې د پراختيــا په حال کې دي او هــره ورځ د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو توکو سلګونه واګنونه د رېل پټلۍ له لارې صادر او واردېږي او همداراز افغان- ټرانس پروژه په دې برخه کې اساسي رول لري، چې بايد عملي کار يې پيل شي.

د ازبيکستان او افغانســتان اړيکو مخينه ۱۹۹۵ميلادي کال ته ور ګرځي. خو دغه اړيکې کله پيکه او کله هم پراخ شــوي دي. ولې په افغانستان کې د امريکا له ماتې او د کابل اداري له ړنګېدو وروسته اسلامي امارت خپل دريځ چې له ټولو هېوادونو سره ښــې اړيکې غواړي او د دوی سياست پر بې طرفۍ او اقتصادي سالمو اړيکو ولاړ دی، د ازبيکستان په ګډون د منځنۍ اسيا هېوادونو ته بشپړ ډاډ حاصل او په دې برخه کې يې تشــويش له منځه ولاړ.

همدا لامل و چې د منځنۍ اسيا هېوادونه يو په بل پسې له اســلامي امــارت سره د خپلو ســياسي اړيکو ترڅنګ اقتصادي اړيکو پراخولو ته را وړاندې شــول. د اړيکو د پراختيا په برخه کې د افغانستان او ازبيکستان هېوادونو لوړ پـوړو پلاويو د يو بــل هېوادونو ته ســفرونه کړي دي. افغانســتان ته د ازبيکستان د لومړي وزير سفر د همدې سفرونو لړۍ ده. افغانستان ته د ازبيکستان د لومړي وزير په مشرۍ د لوړ پوړي پلاوي سفر پرمهال د ۲،۵ ميلياردو ډالرو په ارزښت د تړونونو لاسليک، د دواړو هېوادونو لپاره د اقتصادي اړيکو په تاريخ کې يو نوی څپرکی پرانيزي.

دا تړونونه به د افغانستان او ازبيکستان په اقتصادي وده کې نوې ساه پو کړي. دغه تړونونه نه يوازې د افغانستان له پاره اقتصادي فرصت برابروي، بلکې ازبيکستان ته هم په ســيمه‌ييزو بازارونو کې د اقتصادي نفوذ له پاره زمينه برابروي. په دې تړونونو سره به افغانستان وکولی شي چې خپلې اقتصادي زېربناوې پياوړې، له نړيوالو او سيمه‌ييزو بازارونو سره وصل او خصوصي سکټور پياوړی کړي. دغه راز دا د افغانســتان لپاره يو مهم فرصت هم دی چې په نړيوال او سيمه‌ييزه کچه د يو مهم اقتصادي لوبغاړي په توګه مطرح شي. لــه دې لارې به افغانســتان پر دې وتوانېږي چې خپلې اقتصادي موخې تر لاســه او د خپلو خلکو د هوساينې لپاره نوې لارې پرانيزي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونیزه اباديّ

هفته‌نامه آبادی


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د پلتوني اوبو بند

## پرانیسته وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۹مه نېټه په پکتیکا ولایت کې د پلتوني بند د چارو د پیل پرانیسته وکړه.

په همدې موخه جوړ شوو مراسمو کې د اوبو او انرژۍ محترم وزیر ملا عبداللطیف منصور، د دغه ولایت علماوو، سوداګرو او یوشمېر امارتي مسوولینو ګډون درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال جوړ شویو مراسمو ته په خپله وینا کې وویل، اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پیاوړي اقتصاد لپاره زراعت او د زراعت د پرمختګ لپاره اوبه تر ټولو مهمې دي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت د اوبو مدیریت په خپلو لومړیتونو کې نیولی او پر پانګوالو یې غږ کړی چې د اوبو مدیریت په برخه کې پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د خودکفایي، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو تر څنګ د طبیعي سرچینو د مدیریت لپاره قوي هوډ لري چې په خبره یې، په دغه برخه کې یې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې ده. محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د هېواد په کچه د هغو لویو او متوسطو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه يې نیمګړي یا هم نه و پیل شوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د یادو بندونو د چارو بشپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې یې د ډېرو بندونو عملي چارې پیل شوې دي. د دغو بندونو له جملې یو هم د پلتوني بند دی چې نن یې عملاً کار پیل شو.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، د پکتیکا ولسونو د اسلامي نظام د راتلو لپاره ډېرې قرباني ورکړې دي، دا اوس زموږ مسوولیت دی چې د دوی ستونزو ته رسېدنه وکړو او په دې ولایت کې هغه پروژې بشپړې کړو چې د دوی اقتصادي ستونزې تر یوې اندازې پرې حل کېدای شي. د پلتوني بند د چارو د بشپړولو په برخه کې به له شته امکاناتو څخه استفاده وکړو او له قراردادي شرکت څخه هم غواړو چې په اخلاص او امانتدارۍ سره ورسپارل شوې چارې بشپړې کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، دغه پروژه د اسلامي امارت په مالي ملاتړ د ملي پراختیا شرکت له لوري په دوه نیمو کلونو کې رغول کېږي چې په بشپړېدو سره به یې د دغه ولایت مرکز ښرنې سربېره د نږدې سیمو تر ځمکه لاندې اوبو زېرمې قوي، کرنیزې ځمکې به خړوبې، سېلابونه به کنټرول او د چاپېریال په خوندي ساتلو کې به رغنده رول ولوبوي.

د پلتوني بند په جوړېدو سره به سلګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره، شاوخوا ۲۵ میلیونه مترمکعب اوبه به زېرمه، ۲۵۰۰ هکتاره ځمکه به خړوبه او ورسره به ۹۳۵ کیلو واټه برېښنا هم تولید شي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ازبیکستان لومړي وزیر سره وکتل



د ازبکستان لومړی وزیر محترم عبدالله عارف اوف چې د یاد هیواد د یو لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ کابل ته راغلی و، په ارګ کې ورته د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام دفتر عمومي رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع هرکلی وکړ.

وروسته د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبکستان لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف او د دواړو هیوادونو لوړ پوړو پلاویو د افغانستان او ازبکستان ترمنځ په مختلفو برخو

کې د اړیکو پراختیا او له هغې ډلې د اقتصادي او سوداګریزو پروژو د عملي کار د پیل په اړه بحث او خبرې وکړې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، هیله لرو چې د ازبکستان د لوړپوړي پلاوي سفر د دواړو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا په برخه کې ګټور تمام شي.

ورپسې د ازبکستان محترم لومړي وزیر وویل، افغانستان او ازبکستان دیني، فرهنګي او تاریخي مشترکات لري او جمهور رئیس میرضیایف تل د دواړو هیوادونو ترمنځ د ښو او دوستانه اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار کوي.

وروسته د اوبو او بریښنا، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، ترانسپورټ او هوايي چلند او کانونو او پټرولیم وزارتونو له خپلو ازبکستاني سیالانو سره د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د اقتصادي او ترانزیتي اړیکو د پیاوړتیا په برخو کې د لا زیاتو اسانتیاوو په رامنځته کولو او په دې برخه کې د خپلو اړوندو ادارو پر کړنو خبرې وکړې.

دغه راز د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د ازبکستان لومړي وزیر د دواړو هیوادونو ترمنځ د همکاریو تفاهم لیکونو د لاسلیک په مراسمو کې ګډون وکړ.

په دې مراسمو کې په پیل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبکستان لومړي وزیر او مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه: خوښ یوو له تاسو سره په ازاد او خپلواک افغانستان کې ګورو او د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو او همکاریو په برخو کې د مختلفو مسایلو په اړه خبرې کوو.

نوموړي د افغانستان په اړه د ازبکستان د جمهور رئیس د مثبت او واقعبینانه دریځ مننه وکړه ویې ویل، د دواړو هیوادونو ترمنځ سوداګریزې او اقتصادي اړیکې د پراختیا په حال کې دي او هره ورځ د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګریزو توکو سلګونه واګونه د رېل پټلۍ له لارې صادر او واردیږي او همدا راز افغان ـ ټرانس پروژه په دې برخه کې اساسي رول لري، چې باید عملي کار یې پیل شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د سرخان ـ پلخمرۍ ۵۰۰ کیلوولټه بریښنا مزي د تمدید هرکلی کوي. همدا راز د سب سټېشنونو د پیاوړتیا او د بریښنا لینونو د کیفیت ښه کولو ته باید پاملرنه وشي او د کابل د ارغندی سب سټېشن ظرفیت لوړ شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پر دې ټینګار سره چې اسلامي امارت د نورو هېوادونو په پرتله د پانګونې لپاره ګاونډیو هیوادونو ته لومړیتوب ورکوي وویل، موږ باید د سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو د پراختیا او په دې برخه کې د خنډونو له منځه وړلو لپاره هر اړخیزې خبرې وکړو.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو په پای کې وویل، افغان سوداګرو ته د سوداګریزو ویزو ورکولو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کول د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو پراختیا لپاره مهم دي.

وروسته د ازبکستان لومړي وزیر عبدالله عارف اوف په خپلو خبرو کې وویل، خوښ یم چې په لومړي ځل تاریخي هېواد افغانستان ته سفر کوم، زه ستاسي له تاوده هرکلي او مېلمه پالنې د زړه له تله مننه کوم.

هغه زیاته کړه، ازبکستان افغانستان ته د اسیا مهمې برخې په سترګه ګوري، دغه راز د ازبکستان جمهور رئیس شوکت میرضیایف ټینګار کوي چې د افغانستان له اوسني حکومت سره له تعامل پرته موږ نشو کولی مثبتې پایلې ته ورسیږو.

د ازبکستان لومړي وزیر وویل، له افغانستان سره د ازبکستان حسنه او نږدې اړیکې د نړۍ نورو هېوادونو ته ښه مثال کېدای شي. هغه زیاته کړه له افغانستان سره زموږ سوداګریزې اړیکې د انکشاف په حال کې دي او موږ د دغو اړیکو د لازیاتې پراختیا غوښتونکي یوو.

محترم عبدالله عارف اوف څرګنده کړه، په ازبکستان کې د افغانستان د نوي سفیر د رسمي کار د پیل په اړه مثبت تصمیم نیول شوی او دغه مسئله به ډېر ژر اعلان شي. همدارنګه ډاډ درکوم چې له افغانستان سره تړلې ترسره شوې موافقې عملي کېږي؛ د مسو او ډبرو سکرو کانونو د استخراج په برخه کې به په افغانستان کې پانګونه وکړو، دغه راز چمتو یوو چې د اوبو د سیما په برخه کې هم افغان متخصصین وروزو.

د ازبکستان لومړي وزیر وویل، د کرنیزو تخمونو د اصلاح او ښوالی په برخو کې زموږ همکاري له افغانستان سره دوام لري او چمتو یو خپلې تجربې له افغان کروندګرو سره شریکې او هرکال د سلو په شاوخوا کې متخصصین د هوايي چلند او رېل پټلۍ په برخو کې وروزو.

وروسته د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبکستان د لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف په حضور کې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د همکارۍ پنځه سندونه د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر محترم نورالدین عزیزي او د ازبکستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر له لوري لاسلیک شول.

په همدې ترتیب د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، کانونو او پټرولیم، د افغانستان بریښنا شرکت او د ګمرکونو لوی رئیس له خپلو ازبکستاني سیالانو سره د همکارۍ تفاهمنامې لاسلیک کړې.

په پای کې د ازبکستان لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف او مل پلاوي یې د غرمنۍ په مېلمستیا کې چې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي له لوري ترتیب شوې وه، ګډون وکړ.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه اباديٍ
هفته‌نامه آبادی


# د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ

# د ۲,۵ میلیارد ډالرو په ارزښت

## ۳۵ تفاهمنامې لاسلیک شوې




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه د افغانستان د نړیوال نندارتون په مرکز کې د ۲,۵ میلیارد ډالرو په ارزښت ۳۵ تفاهمنامې لاسلیک شوې. د یادو تفاهمنامو د لاسلیک په مراسمو کې د دواړو هېوادونو مسوولینو او د خصوصي سکتور استازو هم حضور درلود. په دغو تفاهمنامو کې د ۱,۴ میلیارد ډالرو په ارزښت ۱۲ د پانګونې او همدا راز د ۱,۱ میلیارد ډالرو په ارزښت ۲۳ سوداګریزې تفاهمنامې شاملې دي، چې په پلي کېدو سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې پیاوړې او د سوداګرۍ په کچه کې به د پام وړ زیاتوالی راشي.

# فورم تجارتی افغانستان - ازبکستان افتتاح شد

از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء و عبدالله عارف اوف نخست وزیر ازبکستان فورم تجارتی افغانستان - ازبکستان که در مرکز نمایشگاه بین المللی افغانستان راه اندازی شده بود، ۲۷ام اسد ۱۴۰۳ خورشیدی افتتاح شد. در مراسمی افتتاحیه فورم تجارتی مذکور مسؤلین و نماینده گان سکتور خصوصی هر دو کشور حضور داشتند. قابل ذکر است که در این فورم تجارتی موتر ها، اطفائیه، تراکتورها و تولیدات صنعتی مختلف ازبکستان به نمایش گذاشته شده بود و به مدت سه روز ادامه داشت.



# کمیسیون تدارکات ملی پروژه‌های گوناگون را به ارزش حدود پنج میلیارد افغانی منظور نمود



به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء کمیسیون تدارکات ملی قراردادهای ۳۱ پروژه را به ارزش حدود ۵ میلیارد افغانی منظور و ۷ پروژه را تعدیل نمود. جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات ملی که امروز ۳۱ام اسد ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شده بود، طبق اجنداء ۴۰ پروژه برای منظوری ارائه شد که از این میان قرارداد ۳۱ پروژه منظور، ۷ پروژه تعدیل، یک پروژه لغو و در مورد قیمت قرارداد یک پروژه، به کمیته تعیین شده وظیفه سپرده شد تا با شرکت قراردادی بحث و گزارش آن را به رهبری کمیسیون تدارکات ملی ارائه نماید.

در پروژه های منظور و تعدیل شده تکمیل کار باقیمانده بند ذخیروی آبگردان ولایت بادغیس، بازسازی یک توربین فابریکه تولیدی برق نغلو، تدارک وسایل مربوط به برق در ولایات مختلف، ارائه خدمات مخابراتی و اینترنتی با کیفیت و سریع به شهروندان، ارائه خدمات در گمرکات مختلف کشور، تکمیل شبکه آبرسانی شهر قلعه نو ولایت بادغیس و تعدادی از پروژه های دیگر شامل می باشند که از سوی امارت اسلامی تمویل می گردد.

# در اولین جلسه شورای عالی ستندرد به ریاست معاون اقتصادی ریاست الوزراء ۲۴ ستندرد تصویب شد



به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء اولین جلسه شورای عالی ستندرد ۳۰ ام اسد ۱۴۰۳ در قصر مرمریـــن تدویر یافت. ملا فیض الله تمیم رئیس عمومی اداره ملی ستندرد، اعضای دایمی این شورا و نمایندگان سـکتور خصوصی نیز در این نشســت حضور داشـــتند. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند طی سخنانی در نشســتی که به همین مناسبت تدویر گردیده بود، گفت که افغانستان در جهت رشد و توسعه اقتصادی قدم های اولیه را بــر مــی دارد، ارائــه محصولات و خدمات بر اســاس ستندردهای ملی و بین المللی برای رقابت منطقه ای و بین المللی ضروری است. به گفته محترم ملا صاحب، ستندردها کیفیــت و اعتبار محصولات و تولیــدات را برای رقابت در بازارهای ملی، منطقه ای و بین المللی و پذیرش در ســطح بین المللی تضمین می کند. به گفته محترم ملا صاحب، هر معیاری که ما در افغانســتان تصویب و اجرا می کنیم، در واقع به رشد اقتصادی و توسعه پایدار کشور کمک می کند. معاون اقتصادی ریاســت الوزراء با اشاره به فعالیت اصلی شــورای عالی ســتندرد گفت، وظیفه اصلی این شورا تنها معرفی ستندردها نیســت، بلکه مسئولیت اصلی شان این است که از عملی شدن مؤثر ســتندردها اطمینان حاصل شود تا بتوانیم گام های عملی در زمینه رشد و توسعه کشور برداریم. وی افزود، این شورا با توجه به نیازهای نسل های موجود و آینده با توجه به یک مسئولیت ملی و اساسی تلاش خواهد کرد تا عدالت، شفافیت و اصل توسعه پایدار را در اجرای ستندردها تامین نماید.

به گفته محترم ملا صاحب، تطبیق مؤثر ســتندردها باعث هماهنگی در تولید، توســعه تجــارت، جلوگیری از هزینه های اضافی و صرفه جویی در زمان آن می شود. علاوه بر این منجر به انتقال تکنالوژی جدید از کشــورهای توسعه یافته به افغانســتان خواهد شــد. وی از تمامی تجاران و صنعتگران کشور خواست تا با توجه به ستندردهای مصوب شورای عالی ستندرد، محصولات و تولیدات با کیفیت را به شــهروندان ارائه دهند. در پایان این نشست ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء از تمامی اعضای شــورای عالی ستندرد خواســت تا این مسئولیت بزرگ ملی را با تعهد، به طوری مسلکی و صمیمیت کامل انجام دهند و در مجالس آینده شورا با دستاوردهای شفاف اشتراک نمایند.

در این جلسه از سوی کمیته تخنیکی اداره ملی ستندرد ۲۴ ستندرد جدید برای بحث ارائه شد. از جمله ۲۴ ستندرد ۱۴ ستندرد مشخصات و ۱۰ ستندرد روش آزمایش بوده که پس از بحث و تبادل نظر همه جانبه به تصویب رسید و به تمامی وزارتخانــه هــا و ارگان های ذیربط توصیه شــد که این ستندردها را به نحو احســن تطبیق نمایند. این ستندرد ها نظر به اولویت ها در بخش مواد غذایی، ساختمانی، نفتی، نســاجی، کیمیاوی و پلاستیک بود. علاوه بر این از سوی کمیته های تخنیکی اداره ملی ســتندرد در مورد ۳ ستندرد تجدید نظر شده است.

شــایان ذکر است که بر اساس حکم شماره (۲۰۸۳) مقام عالی ریاست الوزراء، شورای عالی ستندرد جهت حفاظت از صحــت و حفظ مصؤنیــت، تضمین کیفیــت، حمایت از مستهلک، تســهیلات در تجارت، به میان اوردن قواعد و معیارها و برای تطبیق آنها و حفاظت از محیط زیست ایجاد شده است.



# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با شماری از تجاران روسی دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ اول سنبله سال جاری خورشیدی در دفتر کارش با تعدادی از تجاران روسی و افغانی دیدار و در مورد تجارت و سرمایه گذاری گفتگو کردند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در جریان این دیدار گفت که افغانستان در حال حاضر فرصت های زیادی برای تجارت و سرمایه گذاری دارد و تجاران و سرمایه گذاران داخلی و خارجی می توانند در اینجا سرمایه گذاری نمایند. محترم حاجی ملا صاحب افزود که افغانستان اگر چه کشور فقیری است، اما از نظر منابع طبیعی کشور غنی میباشد و فرصت های خوبی برای سرمایه گذاری وجود دارد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت که همواره از سرمایه گذاران داخلی و خارجی خواسته است که به افغانستان بیاید و در زمینه های مختلف سرمایه گذاری نمایند و یا در عرصه تجارت فعالیت های خود را انجام دهند.

سپس تاجران روسی برای سرمایه گذاری در بخش های مختلف به ویژه در بخش صنعت علاقمندی خود را ابراز داشته، گفتند که می خواهند همکاری خود را با تاجران افغان در زمینه تجارت افزایش دهند.

در پایان، ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تجاران روسی و افغانی از هر گونه همکاری از سوی امارت اسلامی اطمینان داد و از آنان خواست که پس از ارزیابی بازار، تجارت خود را در فضای آرام به پیش ببرند.



# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با تعدادی از سرمایه گذاران کشور کویت دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء امروز به تاریخ اول سنبله ۱۴۰۳ خورشیدی در دفتر کارش با تعدادی از سرمایه گذاران کویتی دیدار نمود. در این دیدار ملا عبداللطیف منصور وزیر آب و انرژی نیز حضور داشت.

در این دیدار دو طرف در مورد سرمایه گذاری و تجارت در افغانستان گفتگو کردند. سرمایه گذاران کویت گفتند که افغانستان اکنون به کشوری مناسب برای سرمایه گذاری تبدیل شده است و حاضر اند در اینجا علاوه بر سرمایه گذاری در زمینه های مختلف به تجارت بپردازند. ایشان همچنان افزودند که می خواهند بنیادی را برای کمک ها در افغانستان ایجاد کنند که از سوی ملت های کشورهای اسلامی ارائه می شود و به گفته آنان، این بنیاد با امارت اسلامی در هماهنگی کامل کمک های مذکور را برای همکاری با فقرا افغان و در بخش های انکشافی مصرف می نماید تا باعث ایجاد فرصت های جدید و در بخش زیربنا پیشرفت به وجود آید.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء از سرمایه گذاری سرمایه گذاران کشور کویت در افغانستان، فعالیت در عرصه تجارت و همچنان ایجاد یک بنیاد قوی در زمینه توسعه را استقبال کرد و به آنها اطمینان داد که امارت اسلامی از آنان همکاری و پشتیبانی کامل می نماید.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی






# کابل ته د ازبيکستان د لومړي وزير سفر؛ موخې او پايلې

**ليکوال: امان‌الله حنيفي**

## سريزه

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د افغانستان په اړه د ګاونډيو، سيمې او ان نړۍ هېوادونو سياست بدل شوی دی او اوس ټول هېوادونه افغانستان ته د سيمې د يو مهم لوبغاړي په توګه ګوري، چې کولی شي د سيمې په امنيتي، سياسي او اقتصادي ثبات کې رغنده رول ولوبوي. په همدې موخه د پخوا په پرتله ډېری هېوادونه زيات لېواله دي چې له کابل سره خپلې هراړخيزې اړيکې پراخې کړي، څو وشي کولی د سيمې په راتلونکي اقتصادي وضعيت کې د کابل ګډ اقتصادي ملګري جوړ شي. د دې هېوادونو له جملې يو هم ازبيکستان دی چې واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره يې ان په لومړيو ورځو کې پراخ سياسي او اقتصادي تعامل ته را ودانګل. د کابل او تاشکند ترمنځ د دوه اړخيزو اړيکو د پياوړتيا په موخه څو ځلې د دواړو هېوادونو د لوړپوړو چارواکو له لورو سفرونه ترسره شوي، چې ښه بېلګه يې په دې وروستيو کې کابل ته د ازبيکستان د لومړي وزير په مشرۍ د لوړپوړي پلاوي سفر دی.

د دغه سفر اصلي موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې د اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو پراختيا وه، چې موږ به دغه مقاله کې لنډې خبرې پرې کوو.

## کابل ته د ازبيکستان د لومړي وزير د سفر موخه

د ازبيکستان د لومړي وزير عبدالله عارف اوف په مشرۍ لوړپوړی اقتصادي پلاوی د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په ۲۹مه نېټه کابل ته په رسمي سفر راغی. د دغه پلاوي په ترکيب کې پر لومړي وزير سربېره، د ازبيکستان د کرنې، سوداګرۍ، کانونو او ټرانسپورټ وزيرانو، د دغه هېواد پانګوالو، سوداګرو او همدا راز د خصوصي سکټور استازو هم حضور درلود. واک ته د اسلامي امارت له رسېدو راپدېخوا دا لومړی ځل دی چې د يو بهرني هېواد لومړی وزير کابل ته سفر کوي.

د ښاغلي عبدالله عارف اوف سفر د دې ښکارندويي کوي چې واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره افغانستان د بيارغونې او اقتصادي ودې نوی مزل پيل کړی او دغه مزل د ګاونډ او سيمې په سياسي، اقتصادي او امنيتي ثبات کې رغنده رول لوبوي. نو اړتيا ده چې تاشکند د دغه مزل پر مهال د کابل ګډ ملګری جوړ شي.

د ازبيکستان لومړي وزير ښاغلي عبدالله عارف اوف کابل ته د خپل سفر پر مهال د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره په لېدنه کې وويل، تاشکند د مرکزي اسيا په هېوادونو کې افغانستان ته د يو مهم او ستراتيژيک هېواد په توګه ګوري او لېواله دی چې په مختلفو برخو کې ورسره خپلې اړيکې پراخه کړي. نوموړي واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروسته په افغانستان کې د ترسره شوو پرمختګونو په ځانګړې توګه د امنيت، پانګونې او سوداګرۍ په برخه کې د ترلاسه شوو لاسته راوړنو ستاينه وکړه او ويې ويل چې ازبيک پانګوال غواړي له اسلامي امارت سره په همغږۍ د افغانستان د اوسپنې، مسو، سيمنټو توليد، نفتو او ګازو په کانونو کې پانګونه وکړي.

نوموړي په دغه برخه کې د ازبيک پانګوالو د پانګونې د لېوالتيا څرګندولو سربېره وويل، ازبيکستان چمتو دی چې په افغانستان کې د آمو نفتي حوزې استخراج شوي نفت ترمذ ته د تصفيې لپاره انتقال او بېرته يې د افغانستان بازارونو ته صادر کړي. د دغه سفر پر مهال ازبيک پلاوي





په افغانستان کې د نفت او ګازو په برخه کې د یوې معیاري تصفیې خونې د جوړولو په برخه کې هم د پانګونې لېوالتیا ښودلې او ژمنه یې وکړه چې په دغه برخه کې به افغان کډوالو ته د ظرفیت لوړونې او خپلو ترسره شوو تجربو شریکولو زمینه هم برابره کړي. ازبیک پانګوالو دا هم وویل چې دوی د افغانستان په شمال کې د سیمنټو د یوې لویې تولید کارخونې په برخه کې هم پانګونې ته چمتو دي او غواړي په دغه برخه کې د اسلامي امارت د همکارۍ ترلاسه کولو په برخه کې عملاً پانګونه وکړي.

د ښاغلي عبدالله عارف اوف په مشرۍ راغلي ازبیک پلاوي له افغانستان سره د خپلو سوداګریزو اړیکو زیاتوالي ته هم لېوالتیا ښودلې او ویې ویل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره د کابل او تاشکند ترمنځ د سوداګرۍ په کچه کې زیاتوالی راغلی او دوی غواړي چې سږ کال دغه کچه یو میلیارد او په نږدې راتلونکي کې دربیو میلیاردو ډالرو ته ورسوي. د دغه پلاوي مشر وویل چې په همدې موخه ازبیکستان غواړي په کابل کې په خپل سفارت کې سوداګریزه آتشه وګماري او همدا راز په حیرتان بندر کې له افغانستان سره په ګډه د سوداګریزو ستونزو او اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه ګډ کمېسیون هم جوړ کړي.

پردې سربېره یې د سوداګرۍ کچې د زیاتوالي په موخه دې ته هم لېوالتیا ښودلې چې د حیرتان بندر له دې وروسته ۲۴ ساعته کړي، څو د دواړو هېوادونو سوداګر وشي کولی په اسانۍ سره یو او بل هېواد ته انتقالات وکړي. ازبیک پلاوي افغان سوداګرو او عامو خلکو ته بلنه ورکړه چې په ترمذ کې د ترمذ له نړیوال سوداګریز مرکز څخه پرته له ویزې او مالیې ورکولو د ۱۵ ورځو لپاره ورپیا لیدنه وکړي.

همدا راز ازبیکستان د افغانستان اوسني وضعیت ته په اشارې سره چې د سوداګرۍ او ترانزیټ لپاره ښه مساعد دی وویل، تاشکند غواړي چې له کابل سره په ګډه په حیرتان بندر کې سوداګرو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه لوجیستکي مرکز هم جوړ کړي، چې په مختلفو برخو کې به خدمات وړاندې کوي.

د ازبیکستان لومړي وزیر افغان لوري ته ډاډ ورکړ چې نور به د افغان ټرانس پروژه د کاغذ پر مخ نه، بلکې په عملي ډول تطبیق شي، چې له مخې به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ په برخه کې ډېر پرمختګ راشي. د افغان ټرانس پروژې د عملي چارو د پیل په اړه اسلامي امارت تاشکند ته د هر ډول همکارۍ پوره اطمینان ورکړ او دغه پروژه یې د سیمې په اقتصادي ثبات کې مهمه وبلله.

د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې زیاتوالي په موخه ازبیکستان لېوالتیا ښودله چې دوی چمتو دي د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ پروژه تر کابل پورې وغځوي او همدار راز د هرات – کندهار- سپین بولدک د اوسپنې پټلۍ شبکې په برخه کې هم له افغانستان سره همکاري وکړي. دوی وویل، تاشکند چمتو دی چې په حیرتان بندر کې د نائب اباد سټېشن کې پانګونه وکړي او دغه سټېشن د سوداګریزو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه پراخ کړي.

ازبیکستان د منځنۍ اسیا هېوادونو له ډلې هغه هېواد دی چې زراعت یې د پام وړ وده کړې او پر مټ یې د خپل هېواد اقتصادي وده غوړېدلې ده. دوی اوسمهال لېواله دي چې له افغانستان سره د اصلاح شوو تخمونو، د اوبولګونې سیستمونو، مالدارۍ او همدارز د زراعتي فارمونو جوړولو په برخه کې له افغانستان سره همکاري وکړي. کابل ته د ازبیکستان د لومړي وزیر د سفر پر مهال افغانستان ته له دغه هېواد څخه د وارداتي برېښنا د زیاتوالي او ثبات په اړه هم بحث وشو او ازبیک لوري ژمنه وکړه، چې افغانستان ته به د قرارداد مطابق برېښنا ورکوي او پر دې سربېره دوی لېواله دي، چې د سرخان – پلخمري وارداتي برېښنا ۵۰۰ کیلوولټ پروژه هم تکمیل کړي. دوی څرګنده کړه چې د دې پروژې د بشپړولو او ترې د مؤثرې استفادې په موخه دې ته هم چمتو دي چې د اسلامي امارت په غوښتنه د کابل ارغندی سب سټېشن ظرفیت له ۴۰۰ میګاواټه څخه ۱۱۰۰ ته لوړ کړي او همدا راز د سرخان – پلخمري برېښنا د لین غځولو پروژه ان تر کابل پورې را ورسوي.

پردې تولو سربېره د ازبیکستان لومړي وزیر له کابل سره د تاشکند د سیاسي اړیکو د پراخوالي لېوالتیا هم څرګنده کړه او ویې ویل، ازبیکستان په تاشکند کې د افغانستان اسلامي امارت معرفي شوی سفیر منلی او په نږدې راتلونکي کې به په رسمي ډول دغه اعلان وکړي. نوموړي دا هم وویل، ازبیکستان چمتو دی چې په تاشکند کې د افغانستان ډیپلوماټیک ظرفیت نور هم لوړ کړي.

له دې ټولو سره سره کابل ته د ازبیکستان د لومړي وزیر عبدالله عارف اوف د سفر پر مهال په ګڼو نورو برخو کې هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه بحثونه وشول، چې د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې

د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه


ابادي اوونیزه

هفته‌نامه آبادی

## پایله

کابل ته د ازبیکســتان د لومړي وزیر عبدالله عارف اوف ســفر د دواړو هېوادونو لپاره له ډېرو لاسته راوړنو ډک و. د دغه سفر پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې د زیاتوالي، په افغانســتان کې د ازبیک پانګوالو پر پانګونې، افغانســتان ته د اړتیا وړ برېښــنا پر ورکړې، د برېښــنا په برخه کې د سرخان – پلخمري ۵۰۰ کیلوولټ مهمې پروژې پر بشــپړولو، د سوداګرۍ کچې د زیاتوالي او ســوداګرو ته د لازمو سهولتونو د رامنځته کولو په موخه د حیرتان بندر پر ۲۴ ســاعته کېـدو، د افغان - ټرانس پروژې پر ژر پیل، په تاشــکند کې د افغانستان د ډیپلوماتیک ماموریت پر لوړونې او یوشمېر نورو برخو کې د ګډو همکاریو پر رامنځته کولو مهمې هوکړې او د تعقیب په موخه یې د ګډو کمېټو پر رامنځته کولو توافق وشو، چې له شک پرته دا چاره به د دواړو هېوادونو پر اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پام وړ اغېز ولري، چې په پایله کې به یې د دواړو هېوادونو اقتصادي وده ورسره وغوړېږي.

پر دې ټولو سربېره په ۳۵ مهمو ســوداګریزو او د پانګونې برخو کې د کابل او تاشکند ترمنځ د ۲,۵ میلیارد ډالرو په ارزښت د تفاهم‌نامو لاســلیک کېدل، د دغه سفر تر ټولو لویه لاســته راوړنه بلل کېږي، چې له مخې به یې د کابل او تاشکند په تجارت کې څو برابره زیاتوالی راشي.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۰,۸۰؋ | ۷۰,۸۳؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۴۴؋ | ۲۴۴؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۸؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۸,۸۷؋ | ۷۸,۹۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۸؋ | ۰,۷۸؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۴۴؋ | ۸۴۴؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۲,۸۷؋ | ۹۲,۹۱؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۸۷؋ | ۱۸,۸۸؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۲۸؋ | ۱۹,۲۸؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹۲؋ | ۹,۹۲؋ |

